هفته نامه **معارف** اوونيزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق، مطابق ۱۳۸۱ هـ ش شماره مسلسل (۲۷۷) ماه ذوالحجة‌الحرام ۱۴۴۵ هـ ق مطابق ثور ۱۴۰۳ هـ ش

داشتن سواد
همچو داشتن چراغ در جاده
ظلمت است

## دلجویی رهبری وزارت معارف از خانواده های آسیب دیده ناشی از سیلاب‌های اخیر در ولایت بغلان

مفتی محمد یوسف ثاقب رئیس عمومی منابع بشری و انکشاف اداره وزارت معارف به نمایندگی از رهبری و منسوبان این وزارت، در سفر رسمی که به ولایت بغلان داشت، با خانواده های آسیب دیده ناشی از سیلاب های صفحه۲



## باميان ولايت ته د پوهنې وزارت سرپرست سفر



د پوهنې وزارت سرپرست الحاج مولوي حبيب الله آغا باميان ولايت ته د ښوونې او روزنې د بهير ارزونې په موخه سفر وکړ.

د پوهنې وزارت سرپرست ددې سفر په ترڅ کې د باميان ولايت د پوهنې رياست د مسئولينو سربېره د يو شمېر رسمي ادارو له استازو او سيمه ايزو چارواکو سره هم وکتل او د پوهنيز نظام د پياوړتيا او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه يې له يادو چارواکو سره خبرې وکړې.

همدا رنګه د پوهنې وزارت سرپرست د خپل سفر پر مهال د ياد ولايت د پوهنې رياست د چارواکو او يو شمېر ديني علماوو په ملتيا ددې ولايت د ښوونکو مسلکي پراختيا زون آمريت، جهادي مدرسې او يو شمېر نورو علمي او ښوونيزو مرکزونو څخه ليدنه وکړه.

پوهنې وزارت سرپرست د باميان ولايت د پوهنې رياست له مسئولينو او کار کوونکو سره د ليدنې پر مهال، د ښوونيز وضعيت لانبه والي په موخه ۲مخ

## د هېواد په يو شمېر ولايتونو کې د څه باندې ۱۳۸ ميليونه افغانيو په ارزښت د مدرسو او ښوونځيو د ودانيو جوړول او بيا رغونه

د هېواد په يو شمېر ولايتونو کې د څه باندې ۱۳۸ ميليونه افغانيو په ارزښت د ۴۱ بابه ديني مدرسو او ښوونځيو د جوړېدو او بيارغونې چارې بشپړې او د يو شمېر ښوونځيو او مدرسو د بنسټ ډبرې اېښودل شوې چې په دې سره به د يادو ولايتونو په زرګونو تنه زده کوونکو او طالب العلمانو ته د زده کړو آسانتياوې برابرې شي.

د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړيکو رئيس او د دې وزارت وياند ښاغلي قاري منصور احمد "حمزه" د معلوماتو پر بنسټ، په تېره يوه مياشت کې د هېواد په ۱۱ ولايتونو غزني، ميدان وردګ، لوګر، بدخشان، دايکندي، بغلان، کنړ، جوزجان، فراه، سرپل ۲مخ

## لیسه عالی استقلال مهد پرورش نخبه گان

لیسه عالی استقلال یکی از مشهورترین لیسه های شهر کابل به شمار میرود که از بدو تأسیس آن تا کنون صدها تن از شخصیت های علمی و نامدار کشور در این کانون علمی آموزش دیده اند. در حال حاضر نیز هزاران تن از فرزندان کشور در این لیسه مصروف فراگیری آموزش می باشند. وزارت معارف که رشد علوم دینی وعصری، بلند بردن کیفیت نظام آموزشی در کشور را در اولویت های کاری خویش قرار داده است تلاش می ورزد تا کیفیت تعلیم و تربیه در تمامی مراکز آموزشی بهبود یابد. وزارت معارف با تلاش شبانه روزی در این راستا دستاوردهای خوبی نیز داشته و توانسته است در مدت کم هزاران مدرسه و مکتب را در نقاط مختلف کشور تأسیس نماید و برای صدها هزار فرزندان کشور زمینه تعلیم و تربیه را فراهم نماید. همان گونه که در بالا یادآوری نمودیم توجه خاص مسئولان وزارت معارف به بهبود کیفیت تدریس و فراهم نمودن محیط مصؤن آموزشی برای شاگردان در مدارس و مکاتب از اولویت های صفحه۲



سرلیکنه

## مطالعه، دید انسان را وسیع و زندگی را پُر مفهوم می سازد

به مناسبت هفته کتاب و کتابخوانی به اهمیت و نقش کتاب و کتابخوانی در پیشرفت فرهنگ و تحول جامعه می‌پردازیم. کتاب وسیله‌ی است که دانش بشری به کمک آن از تباه شدن مصئون می‌ماند و به آیندگان منتقل می‌شود. کتاب، محصول تجربه‌های بشری و خلاقیت‌های ذهنی و آموخته‌های دراز مدت انسان است. سهم کتاب در انتقال دانش‌ها گاهی به مراتب بیشتر و فراتر از دیگر ابزار آموزشی است. برای پیش‌گیری از فساد اخلاقی، رهایی از پوچ‌گرایی، بالابردن سطح تحصیلی نوجوانان و جوانان، و نیز پیشرفت وضعیت فرهنگی خانواده‌ها، باید آنان را به مطالعه هرچه بیشتر تشویق کنیم، چرا که پرورش ذهن خلاق و مبتکر دانشمندان و تقویت روحیه علمی و دینی نسل سوم این مرز و بوم و باز شدن افق دید آینده‌سازان برای مشاهده شگفتی‌های جهان، همه در گرو مطالعه است. بر این اساس، با توجه به اهمیتی که دین اسلام و بزرگان دینی به مطالعه داده‌اند، برای دفاع از آرمان‌های دینی و فرهنگ اسلامی و جبران عقب‌ماندگی‌ها و رسیدن به خود باوری، باید فرهنگ مطالعه همگانی شود. وقتی کتاب، حاصل اندیشه‌ها و تجربه‌های اهل اندیشه و معرفت باشد، کتابخانه نیز کانون همایش صاحب‌نظران صفحه۲


## رهبری ولایت فاریاب از برنامه های وزارت معارف حمایت می کند

رهبری مقام ولایت فاریاب و شورای علمای آن ولایت از برنامه های وزارت معارف در راستای رشد علوم دینی و عصری حمایت نموده و وعده ی هرگونه همکاری را در تحقق پلان‌ها و برنامه‌های تعلیمی به وزارت معارف داد.

الحاج مولوی عبدالخالق صادق معین تضمین کیفیت وزارت معارف در سفری که به ولایت فاریاب داشت با مقامات، رئیس شورای علماء و شماری از متنفذین آن ولایت دیدار نموده و در رابطه به طرح ها و برنامه های وزارت معارف برای رشد و توسعه ی علوم دینی و عصری در کشور معلومات داده و برای تطبیق هرچه بهتر این برنامه ها خواستار همکاری مردم و مقامات ولایت فاریاب گردید.

معین وزارت معارف در رابطه به تثبیت محل مناسب برای ایجاد ۲ باب مدرسه دینی در ولسوالی های شیرین تگاب و کوهستان ولایت فاریاب که از سوی وزارت معارف منظور گردیده است نیز با مقامات آن ولایت صحبت نمود.

در این دیدار معاون مقام ولایت و رئیس شورای علمأ صفحه۲




## په بلخ ولايت کې د څه باندې ۲۵ ميليونه افغانيو په لګښت يو باب دارالعلوم پرانيستل شو

د بلخ ولايت شاديان دښتې اړوند د ذوالفقار پروژې سيمه کې د "المهتدون" په نوم يو باب دارالعلوم پرانيستل شو.

د ياد ولايت پوهنې رياست د مسئولينو د معلوماتو له مخې د دغه دارالعلوم ودانۍ په څلور جريبه ځمکه کې د ۲۵ ميليونه او ۲۰۰ زره افغانيو په لګښت سره د ۳ کلونو په موده کې جوړه شوې چې ځمکه يې د يادې سيمې د دين دارو او بااحساسه خلکو له خوا وقف شوې وه.

د دارالعلوم د پرانيستې مراسمو کې، د بلخ ولايت د پوهنې رئيس الحاج شيخ عبدالجليل شهيد خېل سربېره، د ياد دارالعلوم بنسټګر مفتي احمد فيروز، د بلخ، بغلان او پروان ولايتونو علماء کرامو، قومي مخورو او مشرانو هم حضور درلود.

ويناوالو هر يو په خپل وار سره د ياد دارالعلوم په جوړېدو خوښي څرګنده کړه او ويې ويل: د مدارسو او ښوونځيو زياتوالی د ماشومانو او ځوانانو په سالمه روزنه او اصلاح کې مهم رول لري.

د پوهنې رئيس د خپلو خبرو په دوام په بلخ ولايت کې د پوهې په عاملو ټينګار وکړ او خلکو ته يې د پوهنې رياست له لوري د پراخه همکارۍ د دوام ډاډ ورکړ.

د يادونې وړ ده چې د ياد دارالعلوم په پرانيستلو سره به د بلخ ولايت په زرګونو تنه طالب العلمانو ته د زده کړې زمينه برابره شي.

**دلجویی رهبری...**

اخیـر در شـهر پلخمری و ولسـوالی هـای برکه، نهریـن و بغلان مرکزی دیـدار و مراتب غم شریکی رهبری و منسـوبین وزارت معارف بـه ویژه تأثرات عمیـق الحـاج مولوی حبیـب الله آغا سرپرسـت وزارت معارف را از بابت شـهادت و زخمی شـدن شـماری زیادی هـم وطنـان مـا در آن ولایت با خانـواده های آسـیب دیده شریک سـاخت.

نامـبرده در حالـی کـه از سـوی الحـاج مولوی محمد نـور عزیـزی رئیس و مسـئولین ریاسـت معـارف، مقامات ادارات محلی و شـماری از علماء کرام، متنفذیـن و نمایندگان خانواده های شـهداء و مجروحیـن سـیلاب های ولایت بغـلان همراهی می شـد، از سـاحات سـیلاب زده دیدن نمود.

رئیـس منابع بـشری وزارت معارف ضمـن دیدار با بازمانده گان شـهداء و خانواده هـای مجروحین حادثـه المناک سـیلاب، مبلغ یک میلیـون و ۳۲۰ هـزارو ۸۳ افغانی پـول نقد و به تعـداد ۱۰۰۰ ثوب البسـه کمک های تهیه شـده از سـوی کارمندان ایـن وزارت را به آنها اهـداء نمود.

**بامیان ولایت ته...**

د هغـوی سـتونزې او وړاندیزونـه واورېـدل او د سـتونزو په حل کـې یې له هغـوی سره د همکاري ژمنـه وکړه.

**مطالعه دید انسان را ...**

دانشـمندان و معـارف دوسـتان خواهـد بـود. بی‌مناسـبت نیسـت کـه در روایات مـا، از کتاب به عنـوان بوسـتان دانشـمندان یاد شـده و همدم و سـخن‌گویی شایسـته بـه شـمار آمده اسـت. کسـی که قـدم در کتابخانـه می‌گـذارد، به مجمع دانشـمندان و دانایـان قـدم نهاده اسـت. طبیعی اسـت که در چنین محیطی، انسـان احساس نشاط می‌کند. مطالعه در گسـترش دانـش و ارتقای میزان آگاهی‌هـای عمومـی جامعه نقش به‌سـزایی دارد. وقتی جهل و بی‌خبری، جامعـه‌ی را از پای درآورد، یا شـبهه‌ها، ذهـن جوانان را فلج کند، بدون شـک یکـی از مهم‌تریـن کارهایـی کـه می‌تواند آفت جهل را نابود کنـد، مطالعه اسـت و آنچه می‌تواند شـبهه‌های ذهنی را دفـع کند، ایـمان و اطمینان را به قلب‌هـا بـاز آورد، کتابخوانی اسـت. بی گمان، هیچ ذخیـره و میراثی سـودمندتر و بـا ارزش‌تر از کتاب نیسـت، چرا کـه کتاب، مایـه آرامش روحی انسـان اسـت. کسـی که با مطالعه کتاب‌ها، تسلی و آرامش بیابـد، هرگز آرامش را از دسـت نخواهد داد. کتـاب همدمی اسـت که انـدوه را از بین برده و مطالعه‌کننـده را از تنهایـی در مـی‌آورد و به او حکمت‌هـای جان‌پـرور می آموزانـد.

درمیـان کتاب‌هـای فراوانی کـه وارد بـازار کتاب می‌شـود، هر نـوع کتابـی می‌توانـد خودنمایی کنـد. در واقع هـم آثار مفیـد و خوب بـه میدان می‌آید و هـم کتاب‌هـای بی‌فایـده و گاه با ضرر و زیان. بر این اسـاس، در مسـئله انتخـاب کتاب بـرای مطالعه، باید دقـت فراوانی صـورت گرفته و کتاب‌های سـودمند انتخاب شـود، تـا هم خوب کتـاب بخوانیم، و هـم کتاب خـوب مطالعه کنیم. اطلاعـات برای کتابخوان، شـناختن آثـار خوب و جدید، شـناخت نویسـنده‌گان متعهد وسـالم یک امـر لازمی اسـت. آثـار فرهنگـی و فرآورده‌های علمـی و فکری بایـد مطابق سـتندردهای عقلانی، دینی و ارزشـی تهیه شـود تـا جامعه را به فسـاد و تباهی و بیماری نکشـد. روشـن اسـت که جوانان ما باید توجه داشـته باشـند تا هر کتابـی را نخرند و نخواننـد و به هر نویسـنده و نـاشر، اطمینان صد در صـد نکننـد و تا شـناخت کافی از سـلامت و صحـت کتاب خاصـی پیـدا نکرده‌اند بـه مطالعه همچو آثـار مبادرت نـه ورزند.

**استادان محترم و شاگردان عزیز!**

رهـبری وزارت معارف نـه تنها خـود را مکلف و متعهد بـه ایجاد شرایـط مصـؤن تعلیمی برای اولاد وطـن میدانـد بلکـه؛ در جنـب آن برای ترویـج کتابخوانـی قـشر جـوان بـه خصوص شـاگردان عزیـزاز هیـچ گونـه تـلاش دریغ نه ورزیـده هـر چه بهـتر و بیشتر درین راسـتا به کوشـش های خویـش ادامه می دهـد که درین عرصـه کمـک هـای شـما اسـتادان و والدین عزیـزرا به دیده قدر نگریسـته و امیـد که وزارت معـارف را دریـن زمینـه یاری رسـانید تـا این کشـتی شکسـته کاروان بزرگ معـارف را که از حکومـت های اسـتبدادی به ما به میـراث مانده به سر منـزل مقصود برسـانیم.

ان شاءالله

**لیسه عالی استقلال ...**

اولویت‌هـای وزارت معـارف می‌باشـد کـه یکـی از نمونـه هـای بـارز آن لیسـه استقلال در شـهر کابـل اسـت.

لیسـه عالی استقلال در سال ۱۳۰۰ هـ ش در مرکـز شـهر کابـل ابتـدا بـه نـام لیسـه امانیـه ودر سـال ۱۳۰۹ هــ ش بنـام لیسـه اسـتقلال نـام گـذاری شـد و اولیـن سـنگ تهـداب سـاختمان آن از سـوی مقامـات هـمان وقـت وزارت معـارف و هیـأت اعـزام شـده کشـور فرانسـه گذاشـته شـد. در سـال ۱۳۵۱هــ ش کار سـاخت و سـاز سـاختمان آن تکمیـل و در سـال ۱۳۵۳ هــ ش رسـماً از سـوی مقامـات وزارت معـارف وقـت گشـایش یافـت.

پـس از روی کار آمـدن امـارت اسـلامی افغانسـتان و تأمیـن صلـح و ثبـات در کشـور تغییـرات چشـم گیـر مثبـت در تمامـی بخـش هـای معـارف بـه ویـژه رونـد آمـوزش و پـرورش در ایـن لیسـه نیـز بـه وجـود آمـده اسـت.

مولـوی محمـد شـفیق «واثقـی» آمـر لیسـه اسـتقلال در گفتگـوی ویـژه بـا هفتـه نامـه معـارف مـی گویـد بـه اثـر سـعی و تـلاش مسـئولان ایـن لیسـه و توجـه وزارت معـارف کیفیـت تدریـس در ایـن لیسـه بهبـود یافتـه و دسـتاورد هـای خوبـی داشـته اسـت.

او مـی گویـد بـا آغـاز سـال جدیـد تعلیمـی ۱۴۰۳ هـ ش ۱۵۴ تـن شـاگرد واجـد شرایـط در صنـف اول در ایـن لیسـه جـذب شـدند و در حـال حاضر ۳۷۶۷ تـن شـاگرد در دو تایـم درسـی در لیسـه یـاد شـده مـصروف فراگیـری علـم و دانـش می‌باشـند کـه رونـد آموزشـی آن از سـوی ۱۳۴ تـن معلـم بـه پیـش بـرده می‌شـود.

آمـر لیسـه اسـتقلال می‌گویـد: ایجـاد تعـادل و حمایـت از رونـد تعلیمـی و تربیتـی بـه صـورت دوامـدار، نظـارت و بررسـی همـه جانبـه از فعالیـت هـای تدریسـی و اداری از سـوی هیـأت مؤظـف و نهادهـای مربوطـه، ایجـاد فضـای مصئـون و امـن بـرای تدریـس شـاگردان و فعالیـت هـای منسـوبین و تأمیـن امنیـت، نظـم و دسـپلین در تمامـی بخـش هـای لیسـه بـه طـور دوامـدار را از جملـه فعالیـت هـای روزمـره ایـن لیسـه مـی باشـد.

آقـای واثقـی، تجهیـز و فعـال سـازی دوبـاره کتابخانـه و لابراتوارهـای بخـش کیمیـا، بیولـوژی و فزیـک، در اختیـار قـرار گرفـتن دوبـاره تـالار ایـن لیسـه را کـه در یـک وقـت گنجایـش بیـش از ۵۰۰ تـن را دارا می‌باشـد. ترمیـم و بازسـازی میـز و چوکـی تخریـب شـده و ایجـاد فضـای سـبز در صحـن ایـن لیسـه را از دسـتاوردهای عمده‌یـی مسـئولان لیسـه اسـتقلال طـی دو سـال گذشـته عنـوان مـی کنـد.

قابـل یـاد آوریسـت کـه وزارت معـارف بـرای بهبـود هرچـه بیشـتر کیفیـت نظـام آموزشـی در تمامـی مکاتـب و مـدارس کشـور تـلاش مـی‌نمایـد.

**د هېواد په يو شمېر ولايتونو ...**

او بلـخ کـې د پوهنـې وزارت، ولـسي وګـړو او مرسـتندویه همـکارو بنسـټونو پـه مـالي مرسـته د ۳۳ ښـوونځیو او ۸ دینـي مدرسـو د جوړېـدو او بیارغونـي چـارې بشـپړې او د یـو شـمېر ښـوونځیو او مدرسـو د بنسـټ ډبـرې ایښـودل شـوې دي. د ښـاغلی حمزه پـه وینـا د بدخشـان، غزني او میدان وردک ولایتونـو کـې د ۴ بابـه مدرسـو او ۴ بابـه ښـوونځیو د بنسـټ ډبـرې د ۴٦.۵ میلیونـه افغانیـو پـه ارزښـت ایښـودل شـوې دي، همـداراز د پوهنـې وزارت، ولـسي وګـړو او یـو شـمېر همـکارو مرسـتندویه بنسـټونو پـه مـالي ملاتـړ د جوزجـان، بلـخ او دایکنـدي ولایتونـو پـه بېلابېلـو سـیمو کـې د ۳۹ میلیونـه او ۲۲۰ زره افغانیـو پـه ارزښـت د ۵ بابـه ښـوونځیو او یـو بـاب دینـي مدرسـي ودانـۍ جـوړې او ګټـې اخیسـتنې تـه سـپارل شـوې. ښـاغلي حمـزه زیاتـه کـړه: د میدان وردګـو او لوګـر ولایتونـو پـه بېلابېلـو سیمو کـې د ۲۹ میلیونـه افغانیـو پـه ارزښـت پـه ۹ بابـه ښـوونځیو کـې ۹ پـروژې چـې پـه یـادو پـروژو کـې د لمریـزې بریښـنا سیسـتم، د دېوالونـو او ژورو څاګانـو کینـدل شـامل دي بشـپړې او ګټـې اخیسـتنې تـه سـپارل شـوې دي. همدارنګـه بغـلان ولایـت کـې د یـوې لیسـې د بیارغونـې چـارې د یـو میلیـون او ۲۰۰ زره افغانیـو پـه ارزښـت پیـل شـوې.

نومـوړي زیاتـه کـړه: د دایکنـډي ولایـت مرکـز نیلـي ښـار او د شهرسـتان، میرامـور، خدیـر، کیتـي او کجـران ولسـوالیو پـه ۹ بابـه ښـوونځیو کـې د حفـظ الصحـي د ۹ پـروژو د پلـي کېـدو چـارې بشـپړې او ګټـې اخیسـتنې تـه سـپال شـوي دي د یـادو پـروژو ټـول لګښـت پنځـه میلیونـه ٦٤۵ زره افغانـۍ وو، چـې د پوهنـې پـه برخـه کـې د همـکارو بنسـټونو لـه خـوا ورکـړل شـوي دي. همداراز د پوهنـې وزارت لـه لـوري د کنـړ، لوګـر او سرپـل پـه ولایتونـو کـې ۳ بابـه ښـوونځي او ۲ بابـه مدرسـې جوړې او ګټـې اخیسـتنې تـه سـپارل شـوې، د کنـړ او فـراه پـه ولایتونـو کـې ۴ بابـه ابتدائیـه ښـوونځي چـې تـر دې وړانـدې غیـر فعـال وو بیاځلـې فعـال شـوې.

د ښـاغلي حمـزه پـه وینـا د جوزجـان ولایـت پـه بیلابېلـو ولسـوالیو کـې د پوهنـې وزارت لـه لـوري او د ولـسي وګـړو پـه مـالي مرسـته د ۴ بابـه ښـوونځیو ودانـۍ د ۱۰ میلیونـه افغانیـو پـه ارزښـت جـوړې شـوې چـې د پوهنـې وزارت د کیفیـت تضمیـن معیـن الحـاج مولـوي عبدالخالـق صـادق لـه خـوا یـاد ولایـت تـه د سـفر پـر مهـال پرانیسـتل شـوې.

ښـاغلي حمـزه وویـل: پـه تېـرو دوه نیمـو کلونـو کـې د پوهنـې وزارت لـه لـوري او د ولـس پـه همـکارۍ د هېـواد پـه ټولـو ولایتونـو کـې سـلګونو ښـوونځیو او مدرسـو تـه نـوې ودانـۍ جـوړې شـوې او پـه زرګونـو نـور ښـوونځي او مدرسـې ترمیـم او پـه یـو شـمېر هغـو سـیمو کـې چـې اوسـېدونکو یـې پـه تېـرو کلونـو کـې دینـي او عـصري زده کـړو تـه لاس رسـی نـه درلـود نـوې مدرسـې او ښـوونځي تأسـیس شـوي او دا لـړۍ اوس هـم پـه ټولـو ولایتونـو کـې روانـه ده. چـې پـه دې سره د هېـواد پـه ټولـو ولایتونـو کـې پـه میلیونونـو تنـه زده کوونکـو او طالـب العلمانـو تـه د زده کـړې لازمـې آسـانتیاوې را منـځ تـه شـوې دي.

**رهبری ولایت فاریاب از...**

ایـن ولایـت از اقـدام نیـک وزارت معـارف بـرای سـاخت مـدارس دینـی و مکاتـب در ایـن ولایـت اظهـار خُرسـندی نمـوده و آن را گام سـودمند در رشـد معـارف و تعلیـم اسـلامی خوانـد و از رهـبری وزارت معـارف بـرای رشـد تعلیـم و تربیـه در ایـن ولایـت ابـراز قدردانـی نمـود. هـم چنـان معـاون مقـام ولایـت فاریـاب از پـلان هـا و برنامـه هـای وزارت معـارف بـرای رشـد و توسـعه علـوم دینـی و عـصری در آن ولایـت حمایـت نمـوده و در راسـتای تطبیـق آن بـه رهـبری وزارت معـارف اطمینـان داد.

**بدخشان ولایت ته د...**

همدارنګـه د بدخشـان ولایـت پوهنـې رئیـس لـه یـاد پـلاوي سره ددغـه ریاسـت ځینـې وړاندیزونـه او سـتونزې هـم شریکـې کـړې چـې د پوهنـې وزارت د مقـام د دفتـر لـوی رئیـس لـه لـوري یـادو سـتونزو تـه د رسـېدنې او حـل ژمنـه ورکـړل شـوه.

**پـه بلخ ولایت کـې ...**

خلکـو وغوښـتل، تـر څـو د دغـه ډول پروګرامونـو د پلـي کولـو پـه برخـه کـې لـه پوهنـې ریاسـت سره همـکاري وکـړي.

پـه پـای کـې پـه ممتـازو زده کوونکـو سـتاینلیکونه او نغـدي جایـزې وویشـل شـوې.

**معین‌تعلیم‌وتربیه...**

معیـن تعلیـم و تربیـه وزارت معـارف در سـخنانش کارکـرد هـای ریاسـت معـارف ولایـت نورسـتان را مثبـت ارزیابـی کـرده، جهـت عملـی سـازی پـلان هـا وبـر نامـه هـای تعلیمـی و تربیتـی در آن ولایـت خواسـتار همـکاری و حمایت مقـام ولایـت و سـایر ادارات محلی در ولایـت یاد شـده گردیـد.

در ایـن ملاقـات، مسـئولان ریاسـت معـارف نظریـات و پیشـنهادات خویـش را غـرض غنامنـدی تعلیمـی در بخـش هـای توسـعوی مکاتـب و مـدارس بـا رهـبری وزارت معـارف شریـک سـاخته و در ضمـن برخـی چالـش هـای مربوطـه را نیـز مطـرح کردنـد کـه از سـوی معیـن تعلیـم وتربیـه وزارت معـارف در قسـمت حـل مشـکلات مذکـور وعـده همـکاری سـپرده شـد.

**زده کوونکی باید د ښوونځي د ...**

او جـرأت درلـودل دي. هغـه وایـي د ښـوونځي سربېـره د دینـي زده کـړو لپـاره مدرسـې تـه ځـم او هـم پـه منظم ډول د بـدن د ځواکمنتیـا پـه موخـه ورزش کـوم او کـورس تـه هـم ځـم او پـه ورځنیـو چـارو کـې لـه خپلـې کورنـۍ سره د کـور پـه چـارو کـې مرسـته کـوم.

مخلـص زیاتـوي زده کوونکـی بایـد تـل درس ووایـي او پـه ټولګـي کـې فعالـه وي همدارنګـه د ښـوونځي د کتابونـو سربېـره نـور کتابونـه هـم مطالعـه کـړي تـر څـو یـې د پوهـې کچـه لـوړه شي.

مخلـص لـه سیاسـت سره مینـه لـري او وایـي: غـواړم پـه راتلونکـي کـې یـو ښـه سیاسـت وال شـم تـر څـو د خپـل مسـلک لـه لارې د هېـواد او خلکـو خدمـت وکـړم.

هغـه لـه ځوانانـو پـه ځانګـړې توګـه لـه زده کوونکـو غـواړي چـې تـل خپلـو درسـونو تـه پاملرنـه وکـړي، خپـل درسي بهیـر د یـو منظـم مهالویـش لـه مخـې تنظیـم کـړي او د خپلـې پوهـې د کچـې د لوړولـو لپـاره پـوره هڅـه وکـړي او هـم ځوانـان بایـد یـو بـل تـه لاس ورکـړي تـر څـو د هېـواد او مظلومـو هېوادوالـو د خدمـت جوګـه شي. مخلـص پـه داسـې حـال کـې چـې موسـکایي پـه شـونډو خـوره وه د هېـواد راتلونکـي تـه هیلـه مـن بریښـېده ویـې ویـل: د هېـواد روښـانه راتلونکـې تـه هیلـه مـن یـم او لـه ځوانانـو مـې هـم غوښـتنه ده چـې دوی د خپـل مسـلک سره سـم د خپـل هېـواد پـه بیـا رغونـه کـې پـوره هڅـه وکـړي او د جهـل، نادانـۍ، توکمـي او ژبنـي تعصـب تـه نـه ووایـي او پـه کلکـه مبـارزه ورسره وکـړي.

**داشتن یک تقسیم اوقات ...**

استفاده کنـم. عبدالبصیر در اوقات فراغـت از دروس مکتـب در یکـی از مراکـز آموزشـی زبـان انگلیسـی بـه حیـث اسـتاد ایفـای وظیفـه مـی نمایـد. او مـی گویـد یـک شـاگرد موفـق بایـد در یـاد گیـری دروس مکتـب نهایـت کوشـش بـه خـرچ دهـد و هـم چنـان از وخـت کـه دارد اسـتفاده خـوب کنـد و در انتخـاب دوسـتان، خـوب دقـت نمایـد. نامـبرده کـه علاقـه خاصـی بـه علـم نجـوم دارد مـی خواهـد در آینـده سـتاره شـناس شـود و از ایـن طریـق بـه افغانسـتان خدمـت نمایـد.

او از سـایر جوانـان بـه ویـژه شـاگردان مکتـب مـی خواهـد کـه بـرای آینـده خـود برنامـه ریـزی دقیـق داشـته باشـند و هـدف را کـه بـرای خـود تعییـن نمـوده انـد را تعقیـب نماینـد و بـرای رسـیدن بـه هـدف شـان از هیـچ گونـه سـعی و تـلاش دریـغ نـه نماینـد.

او بـه آینـده بهـتر افغانسـتان خوشـبین اسـت و از جوانـان مـی خواهـد کـه بـرای خدمـت بیشـتر بـه افغانسـتان بایـد بـه علـم و تحصیـل رو آورده و خـود را بـه زیـور علـم آراسـته سـازند. وی مـی گویـد اگـر قـشر جـوان یـک کشـور آراسـته بـه علـم و دانـش باشـد بـدون شـک کـه آن کشـور بـه پیـشرفـت و ترقـی هـای چشـمگیر خواهـد رسـید.

وی در اخیـر مـی گویـد یگانـه راه بیـرون رفـت از تمامـی مشـکلات در کشـور، رو آوردن جوانـان بـه علـم و دانـش اسـت. بـه گفتـه یـی وی یگانـه راه کـه مـی تـوان افغانسـتان را بـه طـرف پیـشرفت سـوق دهـد راه قلـم و معرفـت اسـت. زیـرا انسـان دانـا هرگـز بـه جنـگ رو نخواهـد آورد و یـک زنده‌گـی صلـح آمیـز را در جامعـه بـه ارمغـان خواهـد آورد.

**په هرات کې د ...**

د هـرات ولایـت پوهنـې رئیـس مولـوي رحمـت الله جابـر لـه یـاد همـکار بنسـټ څخـه د مننـې ترڅنـګ وویـل: پـه زیانمن شـویو ښـوونځیو کـې د خېمـو پـه ویشـلو سره بـه د ټولګیـو د نشـتوالي سـتونزه تـر یـوه بریـده حـل شي او سـلګونو زده کوونکـو تـه بـه د زده کـړې مناسـب چاپېریـال برابـر شي.

# روغ او خوشحاله ژوند

**پوهنمل رحمت څواکمن**

آیا روغتیا او خوښي هغه څه ندي چې موږ ټول یې هیله لرو او غواړو یې؟
خو پوښتنه دا ده چې څرنګه یې ترلاسه کړو. آیا د ډېرو شتمنیو په لرلو سره؟ په مشهور کیدلو سره؟ یا د ټولنیزو رسنیو په کانالونو کې د ډېرو مینوالو په لرلو سره؟
څېړنې ښیې چې خوښي له دې ټولو یاد شوو موضوعاتو سره هېڅ تړاو نلري او په بشپړ ډول له نورو عواملو سره اړیکې لري. د ښو اړیکو په درلودلو سربېره، ستاسو د بدن دننه ماشین یا موټور ته پاملرنه یو ډېر مهم فکتور یا لامل ګڼل کیږي.
راځئ چې دلته د همدغه داخلي ماشین د ښه ساتلو لپاره، دغو ۷ عناصرو یا موضوعاتو ته پام وکړو:

**۱- خپل بدن وساتئ:**
عمومي قاعده دا ده چې ستاسو بدن تر ۴۰ کلنۍ پورې ستاسو پاملرنه کوي، خو له هغه وروسته باید تاسو د خپل بدن ساتنه او پالنه پیل کړئ.
دا چې څرنګه او څه ډول خپل بدن ته پام وکړئ، په دې هکله ډېر څه ویل شوي او لیکل شوي دي.
باور دا دی چې منظم خوځښت، صحي خواړه او څښاک، پوره خوب او سګرټ نه څکول ستاسو د بدني سالمتیا لپاره ګټور دي.

**۲- په خپل ژوند کې هدف ولرئ:**
له هدف پرته ژوند، د خوښۍ احساس کموي. هرڅوک غواړي چې ارزښت ورکړل شي او وستایل شي، ستاینه یوه بنسټیزه رواني اړتیا ده او هر څوک د ستایل کیدلو تمه لري.

**۳- د پوره ټولنیزو اړیکو د لرلو لپاره هڅه:**
هغه خلک چې ډېرې ټولنیزې اړیکې لري لکه د کورنۍ له غړو سره، له دوستانو سره او یا په ټولنه کې، د هغو وګړو په پرتله چې لږې ټولنیزې اړیکې لري، خوشحاله وي



او جسمي روغ وي. خو دا د دوستانو په کمیت یا شومره والي پورې دومره اړه نلري، ستاسو د اړیکو کیفیت او څرنګوالی مهم دی. هغه اړیکې او مناسبات پرېږدئ چې ستاسو انرژي مصرفوي . بې کیفیته اړیکې ستاسو روغتیا ته زیان رسوي.

**٤. مثبت احساسات او ذهنیت وهڅوئ:**
تاسو شاید پر یو څه د باور د اغېزې په هکله اورېدلي وي، د بېلګې په توګه ځینې خلک کله نا کله د ناسمو درملو په ترلاسه کولو سره هم له ناروغۍ ښه کیږي، ځکه چې زموږ بدن په څرګنده د دې توان لري چې په داسې مثبت فکر کولو او احساس لرلو سره، چې زه روغتیا مومم، ځان ورغوي. یوازې مثبت فکر کول بس نه دي، باید احساس هم ورسره ولرئ، کله چې مثبت فکر له ښه احساس سره یو ځای شي، بیا نو ستاسو دماغ ستاسو بدن ته مثبت کیمیاوي سیګنالونه لېږدوي، تاسو ښه احساس کوی او د ورځې په اوږدو کې ډېر تمرکز هم ترلاسه کولای شی.

**۵. پر منفي احساساتو تمرکز مه کوئ:**
منفي احساسات ستاسو د بدن لپاره د بدمرغۍ سرچینه ده. هغه مهال چې تاسو ښه احساس نه لرئ، له نا آشنا شکایتونو سره مخ کیږئ، لکه: دعضلو او هډوکو درد، د وېرې احساس، د انرژي نشتوالی، ستړیا او داسې نور. که د منفي احساس موده اوږده شي، کېدای شي تاسې په جسمي او یا رواني ناروغیو اخته شي.
له همدې امله دا مهمه ده چې بدن ته د منفي احساساتو د ننوتلو مخه ونیسئ او له ځانه یې لیرې کړئ. ښایي په پیل کې یې کنټرولول آسانه نه وي او یو څه احساساتي واوسئ، خو یو څه موده وروسته، فشار له منځه ځي او تاسو زده کوئ چې خپل احساسات په ښه ډول کنټرول کړئ.

**۶- په هوښیارۍ یا شعوري توګه ژوند وکړئ:**
په شعوري توګه ژوند کول پدې مانا دي چې تاسو نه پرېږدئ د خپل تېر وخت یادونه، احساسات او چلندونه مو د راتلونکي وخت پوښتنو او ستونزو ته ځواب ورکړي. د ځان پر پوهولو کار کول ګټور دي، د دې ترڅنګ، تنفسي تمرین، ځان پالنه، ذهني آرامتیا، او چوپتیا هم بې اغیزې نه دي او که وخت ورته ورکړئ نو د پوهاوي په زیاتوالي کې مو هم مرسته کوي.
همدارنګه کوښښ وکړئ چې خپله ورځ د پوهاوي په زیاتولو سره پیل کړئ.

**۷. دا زده کړئ چې څرنګه خپل الهام تعقیب کړئ.**
زیاتره وخت موږ داسې انګېرو یا موږ ته رازده شوي دي چې، هرڅه په خپله پوهه او ذهن حل کولای شو. خو داسې نه ده، ځکه زموږ پوهه محدوده ده. خو پر خپلو احساساتو او وړتیاوو باور لرل ښه دي.
تاسو کولی شئ په خپلو احساساتو باور وکړئ. لکه د یوه حالت په اړه د خپل زړه الهام او احساس ومنئ، په اړه یې فکر وکړئ، لنډمهاله پریکړه وکړئ، وخت ورکړئ او بیا خپل زړه او احساس ته وګورئ، که پریکړه مو درته سمه ښکاریده، نو وربانديې عمل وکړئ.

منظم خوځښت، صحي خواړه او څښاک، پوره خوب او سګرټ نه څکول ستاسو د بدني سالمتیا لپاره ګټور دي.

## شخصی برای اولین بار کاهو را دید

اولین برگش را کند ( جدا کرد) زیرش برگ دیگر رسید و زیر آن برگ' برگ دیگر، با خودش گفت: حتماً یک چیزی مهمی است که اینطور کاغذ پیچ اش کرده است...!
اما وقتی به آخرش رسید و برگها تمام شد، متوجه شد که چیزی بین آن برگها پنهان نشده، بلکه کاهو مجموعه ی از این برگ هاست.
داستان زنده گی هم مثل همین کاهو است، ما روزهای زنده گی را یکی پی دیگری ورق میزنیم و فکر می کنیم، چیزی آن طرف روزها پنهان شده، در حالی که همین روزها آن چیزیست که باید دریابیم، درک اش کنیم و از آن استفاده ی خوب کنیم.
چقدر دیر می فهمیم وقتی به آخر رسیدیم بعد می دانیم ، اما آن وقت فایده ندارد.



## د کتاب لوستلو ګټې

**لیکوال: جمال خان**



هر کتاب لوستل موږ ته د هغه څه په اړه معلومات راکوي، د کومو په اړه مو چې مخکې معلومات نه لرل، د ښه کتاب لوستل زموږ پر شخصیت مثبت اثر کولی شي او یو اصلاح شخص راڅخه جوړولی شي.
د کتاب لوستلو سره زموږ معلومات زیاتیږي او ذهني تغییر رامنځته کوي، کتاب لوستل زموږ ذهن پیاوړی کوي او د ادب په چوکاټ کې مو سمبالوي، کتاب لوستل زموږ منطق پیاوړی کوي او دا قوت راکوي چې هر چېرته له هر چاسره په څه ډول منطق سره باید خبرې وکړو.
کتاب موږ پر داسې مسایلو پوهوي چې پر بنسټ یې کولی شو ښه تحلیل وکړو، په ځانګړې موضوع کې خپل نظر څرګند کړو او د منطق له لارې یې دفاع وکړو.
طبیعي ده، څومره چې ډېره مطالعه ولرو، هغو مره له ډېرو کلمو سره آشنا کیږو.
د کتابونو مطالعه او د لیکوالۍ مهارت له یو بل سره نېږدې اړیکه لري. کله چې یو ښه کتاب لولۍ نو د لیکوالۍ مهارت مو پیاوړی کیږي؛ ځکه د نورو لیکوالانو د لیکنو روان والی او آهنګ پر تاسو هم اغېزه کوي. که غواړی ښه لیکوال شی نو ډېر لوستل وکړئ.
فرانسوی متفکر مونتسکیو وایي: ډېر کتاب مطالعه کړئ، څو پوه شی، چې په هیڅ نه پوهیږی.
کله چې د یو کتاب لوستل پیلوو نو پوهیږو چې له څومره ډېرو شیانو نا خبر یو.
استاد الفت وایي: زما ارمان به هغه وخت پوره شي، چې د پوهې قیمت کم شي او هر څوک یې واخیستی شي.
همدارنګه سکاټلېنډی فیلسوف کار لایل وایي: د ګټورو کتابونو یوه ټولګه د نن زمانې یو ښه پوهنتون ته ورته ده.
کتاب مو له یوازېتوب ژغوري.
جورج اورول وایي: په یوازېتوب او ستړیا کې له کتاب سره ژوند کول تر ټولو غوره کار دی.
هیله ده چې کتاب لوستلو سره ځانونه عادت کړئ.

## سنگ هفت قلم

سنگ هفت قلم، یکی از نفیس ترین و با ارزش ترین آثار هنری و تاریخی کشور ما بوده که نظیر آن در جهان وجود ندارد.
این سنگ نفیس از جمله عجیب ترین های هنر حکاکی بوده، که به قول پروفیسور اعظم سیستانی طرح و دیزاین سنگ هفت قلم در سال (۹۰۲) هجری قمری از طرف استاد «کمال الدین بهزاد» و تراشکاری آن توسط استاد «شمس الدین حکاک»، انجام شده و احتمالاً، هنرمندان مشهور دیگری چون «میرک نقاش» و «زین الدین معمار» نیز درخلق این شاهکار هنری نقش داشته اند.
اما در مورد وجه تسمیه این شاهکار هنری به نام «سنگ هفت قلم»، آقای «ولی شاه بهره» در کتابش به نام «هرات نگین خراسان» نوشته است: «این سنگ دارای هفت سطح «مرحله» بوده، که از آنرو بر اهمیت هنری آن افزوده است.
برخی محققین را عقیده بر آنست که با نخستین مرحله کندن این سنگ از کوه، سپس مسطح ساختن آن به شکل یک مکعب، بعد شکل دادن آن شبیه یک صندق صیقل داده شده، آنگاه تنظیم وترتیب پلان کاری، تقسیم نمودن آن با اشکال هندسی، طرح گلبرگها و ترسیم نقوش، تراش دادن گلبرگها ودر نهایت حک خطوط اسلامی «ریحان، ثلث، محقق،رقعه، تعلیق، نسخ ونستعلیق»، معنی کامل هفت قلم را به خوبی میرساند، تا اینکه این عروس هفت قلم را بر حُجله پرگل تاریخش نشانده اند.
البته این سنگ به خواهش سلطان حسین بایقرا (۱۴۶۹- ۱۵۰۷م) در زمان حکومت سلسله تیموریان هرات، درطی هفت سال با کوشش هنرمندانه استادان هنر، این سنگ نفیس به منظور گذاشتن بر سر قبر خود سلطان حسین بایقرا ساخته شده بود.
اما موقعی که فرزند جوان و برومند او بنام «سلطان غریب میرزا»، داعی اجل را لبیک می گوید.
این سنگ نفیس و از قبل آماده شده به امرسلطان حسین بایقرا بر سر مرقد فرزندش که در جوار آرامگاه خواجه عبدالله انصاری رحمه‌الله درمنطقه گذرگاه شهرهرات واقع است، قرار داده میشود.
همچنان گفته شده، که نقش های زیبای این سنگ نفیس آن را به یک پدیدهٔ هنری منحصر به فرد تبدیل کرده و نظر به همین دلیل است که اکنون این اثرزیبا، به حیث یک شاهکار سحرآمیزهنری جهان شناخته می شود.



Newspaper
Marif
Weekly

**مسئول مدیر:** سعید «جلال»
**کتنپلاوي:** الحاج مولوي شهاب الدین «ثاقب»
مولوي عزیز احمد «ریان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
معراج «زماني»
محمد اکرم «وفادار»
محمد نسیم «عیاذ»
عبدالصبور «غفراني»
**انځور اخیستونکی:** محمد ادریس «نوری»
**ډیزاینر :** محمد قسیم «نادم»


**تیراژ:** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازی محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د پوهنې اوونیزی مدیریت

**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړیکې شمېره:** ۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 277,2024


# بدخشان ولایت ته د پوهنې وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس سفر

د پوهنې وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس الحاج مولوي شهاب الدین ثاقب په مشرۍ یو پلاوی، د یو لړ رسمي چارو د ترسره کولو او د ښوونیزو ستونزو د حل په موخه بدخشان ولایت ته سفر وکړ.
د پوهنې وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس د یوې غونډې په ترڅ کې چې د بدخشان ولایت د پوهنې د رئیس الحاج مولوي نصرت الله فیضاني لخوا جوړه شوې وه ګډون وکړ او د خپل سفر په اړه یې د غونډې ګډونوالو ته معلومات ورکړل.
نوموړي د خپلو خبرو پر مهال د یاد ولایت د پوهنیز او روزنیز بهیر د وضعیت په اړه د خبرو ترڅنګ، د دغه ولایت پوهنې رئیس او ددې ولایت اوسېدونکو ته ډاډ ورکړ چې د پوهنې وزارت مشرتابه د یاد ولایت د پوهنې ریاست د پروګرامونو او پلانونو په پلي کېدو کې له دوی سره بشپړه همکاري کوي.
وروسته د بدخشان ولایت پوهنې رئیس د دغه ریاست د دندو، پلانونو او پروګرامونو په اړه معلومات وړاندې کړل. ۲مخ



# په بلخ ولایت کې د قرآن عظیم الشان د حسن قرائت سیالۍ ترسره شوې

د بلخ ولایت د پوهنې ریاست په همغږۍ او د پوهنې د یوې ملاتړې اداري په مرسته، د قرآن عظیم الشان د حسن قرائت سیالۍ، د یاد ولایت د ۳۰ بابه دیني مدارسو د حافظانو تر منځ ترسره شوې.
بلخ ولایت د پوهنې ریاست چارواکو د یادو سیالیو ترسره کولو اساسي موخه، د ځوانانو او حافظانو د استعدادونو وده وبلله او دا یې د قرآن عظیم الشان د تلاوت په برخه کې د ځوانانو د هڅونې لپاره اغېزمن ګام وباله.
همدارنګه د پوهنې مسئولینو له عامو ۲مخ



## داشتن تقسیم اوقات منظم روزمره، راز مؤفقیت شاگرد ممتاز است

عبدالبصیر فرزند آقا محمد متعلم صنف دوازدهم و یکتن از شاگردان ممتاز لیسه عالی استقلال در گفتگو با هفته نامه معارف میگوید که راز موفقیت او داشتن تقسیم اوقات منظم روزمره می‌باشد که وی را به قله های بلند موفقیت رسانیده است.
نامبرده اضافه کرد: من رمز موفقیت خویش را در تلاش های شبانه روزی و داشتن تقسیم اوقات منظم می دانم که توانسته ام با استفاده از تقسیم اوقات روزمره از زمان به طور بهتری صفحه۲

**د کتاب لوستلو ګټې**



۳ مخ

**روږغ او خوشحاله ژوند**



۳ مخ

**سنگ هفت قلم**

صفحه سوم





## معین تعلیم و تربیه وزارت معارف با مقامات محلی ولایت نورستان دیدار کرد



الحاج مولوی سخاءالله سعید معین تعلیم و تربیه وزارت معارف در سفری که به ولایت نورستان داشت با قاری یحیی معاون مالی و اداری مقام ولایت و مسئولان سایر ادارات، علماء کرام و شماری از بزرگان آن ولایت دیدار کرد. در این دیدار روی وضعیت تعلیم و تربیه و بهبود کیفیت هرچه بیشتر معارف در این ولایت بحث شد. صفحه۲

## زده کوونکي باید د ښوونځي د درسونو سربېره نور کتابونه هم مطالعه کړي

حکمران" مخلص" د استقلال عالي لیسې د لسم ټولګي او دې لیسې د ممتازو زده کوونکو له ډلې یو تن زده کوونکی دی، مخلص د ښوونځي د درسونو تر څنګ له فرصت څخه په ګټې اخیستنې د نورو علمي کتابونو مطالعه او همدا راز په ورځنیو چارو کې د منظم پلان درلودل د خپلې بریا لامل را په ګوته کوي او وایي:
زما د بریاء راز د مور دعا، تل مطالعه کول اوهغه په ذهن کې ساتل، د ښوونځي درسونو بیاځلي ویل په خپل وخت د کورنۍ دندې تر سره کول، له ښوونکو، خپلوانو او ملګرو سره ښه سلوک ۲مخ

## په هرات کې د زلزلو له امله د زیانمن شویو ښوونځیو سره د خیمو مرسته وشوه

په هرات ولایت کې یوه همکار مرستندویه بنسټ د یاد ولایت په غوریان او کهسان ولسوالیو کې د تېرو میاشتو د زلزلو له امله له یو شمېر زیانمن شوو ښوونځیو سره د ۱۳۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د ۱۳۷ تختو خیمو او نورو اړینو درسي توکو مرسته وکړه. ۲مخ



## تهداب گذاری صنوف درسی جدید در یکی از لیسه های ولایت پکتیکا به کمک مردم

مولوی عبدالوکیل خالد رئیس معارف ولایت پکتیکا در جمع مسئولین معارف، علمأ، بزرگان و نمایندگان اهالی ولسوالی یوسف خیل ولایت پکتیکا، در محوطه لیسه خوشحال بابا ولسوالی مذکور سنگ تهداب ۸ باب صنف درسی جدید را گذاشت.
اعمار صنوف جدید که قرار است جمعاً مبلغ سه میلیون افغانی هزینه بردارد به کمک مالی باشندگان معارف دوست و خیر این ولسوالی آباد می شود.
به گفته رئیس معارف آن ولایت، این مکتب قبلاً اعمار شده بود اما نسبت کمبود صنوف درسی، یک تعداد شاگردان در فضای باز مصروف آموزش بودند که با ساخت صنوف مذکور فضای مصئون تعلیمی برای حدود ۵۰۰ شاگرد فراهم می شود.



قابل یادآوریست، چندی قبل نیز دو باب مکتب در ولسوالی بکخیل از طرف ریاست معارف ولایت پکتیکا جدیداً تأسیس و گشایش یافت.
رهبری وزارت معارف کمک های مردم را در غنامندی نظام تعلیمی کشور مؤثر و مهم بیان نموده از مردم معارف دوست پکتیکا و به صورت خاص از اهالی علم پرور ولسوالی یوسف خیل آن ولایت تشکری می نماید.

**د پوهنې وزارت متوازن، با کیفیته او د زده کړو ډاډمن چاپېریال رامنځته کولو ته ژمن دی**